مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۲/۲۵

# لنډۍ، د ټپتولو ستونزه

## ۳۶۲مه برخه

ته به ترکومې مسافر يې
زه به ترکومې اوښکې مرېې، مرې تويومه

ته به دولت خپلو ته راوړې
د بېلتانه پر اور دې زه نيولې‌يمه

په پټو، پټو لارو راشه
دا پښتانه دي، بيا به سل کيسې‌کوينه

د لنډيو د دې برخې له‌پاره دا لاندې لنډۍ راټولې شوې‌دي:

تولې خبرې مې دروغ شوې
نه ليونۍ شوم او نه مر درپسې شومه

تمام‌عالم دې خوشحالي‌کړي
زه د جانان له‌پاره اوښکې تويومه

ته خو يوځل کلي ته راشه
لکه پېروته به چاپېره درنه شمه

ته به ترکومې مسافر يې
زه به ترکومې اوښکې مرېې، مرې تويومه

ته به دولت خپلو ته راوړې
د بېلتانه پر اور دې زه نيولې‌يمه

بيا دې ملالې سترګې سرې دي
د کور کافرو درته څه ويلي دينه

بې‌لارې مه‌ګرځه جانانه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

ناسمقدم سړی ګرنګ ته غورځوینه

بېلتونه دې قدر رامالوم کړ
که بیا مې یارشوې، غلامي به دې کومه

په بېقدرۍ مې ته ګرم نه‌یې
په اسانۍ موندلې، تل بېقدره‌وینه

په سترګو ړوند شې، شیرعالمه
د تمبکو په پاڼو چا کړي مرګونه

پر زړه مې داسې زخم جوړ دی
سوال د مرګي راته کوه، چې خاورېشمه

په تول مې یوپاو زهر ورکړل
دله مړ نه‌شو، دوکاندار قرضدار یې کړمه

په پټو، پټو لارو راشه
دا پښتانه دي، بیا به سل کیسېکوینه

پلار یې د خلکو فیصلې کړي
لور یې په تورو سترګو کلي ورانوینه

هرڅه ایره، یاري شوه پاتې
چې پر مېڼوم، آ د بل په څنګ کې څینه

پرځنګانه سر راته کېږده
په غریونیولي غږ تپې درته‌کومه

په اخرت به دې مخ تور وي
پر مظلومانو باندې دېر کوې ظلمونه

په زوروزجانان مې سر دی
په بارانه کې رانه غواړي دیدنونه

پرون په خوا کې راسره و
نن یې په خپل لاس پرمزار ګلونه ږدمه

پرخلکو یوځل مرګی راشي
زه هره‌شپه په زلکدن کې تېرومه

په اشارو یې ښه پوهېږم
له وېرې خوا ته نه‌ورځم، رسوا به شمه

په بېقدرۍ مې ته ګرم نه‌یې
په اسانۍ موندلې، تل بېقدره‌وینه

چې مسافر شې، بیا به راشې
رب دې د تورلحد بندي مه‌کړه مېڼه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

چې مينه‌کړې، تومت به اخلي
د خلکوخولې به توريخاورې بندوينه

چا ته به مړلالی يادېږي
څوک له ژوندي جانانه لارې بېلوينه

جانانه ښه‌سوچونه وکړه
که مې د بدو زور لرې، درسره‌ځمه

جانان دې لاړشي، خفه نه‌يم
په شا دې نه‌گوري، چې زړه مې پسې چوينه

جانانه خدای ته به څه‌وايم
ستا په خاطر مې زړونه ډېر مات کړي‌دينه

د ورکو سترگو ديدن راوړه
که روغه نه‌شوم، بيا مې مه‌کوه پوښتنه

د ژوندانه مزه مې نه‌شته
زه مې جانان په بېلتانه سپارلی‌يمه

دا بې‌ديدنه عمر گران دی
اوس به دا گران‌عمر زه څنگه تېرومه

د مينې‌زور راته مالوم دی
پرميږي ښېنه نه‌ړدم چې يار بې پاتې شينه

د چا چې مورو‌پلار ژوندي وي
چې يې خدمت کړي، ادا کړي يې فرضونه

د ماشوم‌توب ژوندونه راشه
د ښيغلتوب اواز مې دار ته خېژوينه

د ستړي ژوند ستړې قيصې دي
لاليـه! مه مې غږوه ژړا راځـينه

د خوشحالی قسمت مې نه‌شته
غمه ډاده راځه چې غاړه درکومه

د جانان غم مې لکه سيوری
چې چېرته ځم، تر ما نه وړاندې وروسته ځينه

د بنگړو شرنگ دې موسيقي ده
د پازيبه شور دې ښېنتي سندرې دينه

د نفرتونو کور دې ورانشي
د مينې‌کور دې ترقيامته پورې وينه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځير و لولـئ

د سويلاس پوښتنه کېږي
د سويزږه پوښتنه هېڅوک نهکوينه

ديدن مې يار سره ونهشو
ستړیستومان ورپسې ډېروګرځېدمه

د پلارپګړۍ مې راپهياد شوه
چې مې په يار پسېوتم، راستنه شومه

د لالي کور راته دوزخ دی
زه د ورينداري په بدله ورغلې يمـــه

د سختو ورځو ياره څهشوې
بدرنګيشپېورځې پرما راغلېدينه

د قافلې سالاره څهشوې
په قافله دې تورلېوان ګډشوېدينه

د مخامخ سترګو ياري ده
د پناهشووسترګو څوک خاطرکوينه

لاليه ډېرساړه مې کېږي
غېږه برستن کړه، ما درپټهکړه مېنه

له ملنګانو سره مل وای
پروت په ځنګل وای چې مې نه ليدایغمونه

لالی په ما کې ګناهګوري
خپله ګناه، په ګناه نهحسابوينه

له خپل قسمت سره مې جنګ دی
لکه پر لوړه چې اوبه څوک خېژوينـه

لاليه څومره دروغجن يې
ماته اختر، اختر کوې، تېر شول کلونه

ليونی کلکه خولګی راکه
نن دې د خولېلاړې زړګي ته تېرومه

که ناڅاپی له سفر راغلې
لاليه لمونځ درته پرېږدم، خوله درکومه

ګېډی، ګېډی زلفې دې ياره
د بل وطن شمال وهي، بوی يې راځينه

ګيله له خپل سري نه کېږي
ته زما څه يې چې ګيلې درنه کومه

ارمان به وکړې، وخت به تېروي

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**خلک به ډېر وي، څوک به غږ نه‌درکوینه**

اوس مو اړیکي داسي نه‌دي
چي ته ګیلي کوې او زه وضاحتونه

اول مي نه‌ویل، اوس یې وایم
د زړه‌خبرې مي په خوله راغلې‌دینه

ستا، مزدورو ځواني سپېره‌کړه
د جــدایــي پــه لـمـبـو زه وسوځـېـدمـه

ستا به له ما نه ګیله کېږي
قسم دی یاره، بندیوانه مي ساتینه

شکرونه زرځلي ادا کړه
لایق مي نه یې، پاک الله درکړې یمه

شال کي مي شل‌پیونده بنه‌دي
چي لالی وي، نیستي به تېره شي مئینه

غریبي دومره بده نه‌ده
بد یې پېغور دی، سړی سخت خپه کوینه

غریب خو غم غوبنتلی نه و
ولي دې ورکړل په ژوندون دومره غمونه

نور خو د کاڼي غوندې کلک یم
ستـا د بېـلـتـون د تـینګي نه‌یـم، هـارمنمه

زما اخلاص به درمعلوم شي
چي په بې‌ننګو خلکو تا هم واړوینه

زړه به مي څه خوشحالي وکړي
د تسلی یاران مي ورکـشول له وطنه

زړه به مي څه خوشحالي وکړي
د کتو نه‌دی چي پرې وشمارې زخمونه

زه په مرض ناجوړه نه‌یم
زه خو ناجوړه ستا ګل‌رنګي‌خندا کړمه

زړه مي په داسي‌ځای مئن شو
چي یې د قاف ترغرونو دنګ دي دېوالونه

زماخرچي به پوره نه‌کړي
په سرکاري تنخواه دې مه کوه لوظونه

زما د زړه‌کور دې تالا که
خدای دې تالا که سپینه‌خوله، شینکي‌خالونه

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

زنګ راته وکړه، حال مي واخله
رنګ مي زېړېږي، د مرګي ورځي مي دينه

زما نصيب د سالنګ غر دی
پد نورو لمروي، پر ما واوري بارانونه

زما په بدو پسي ګرځي
جانان په خپلو بدو خاوري اړوينه

زما پرزړه غمونه بار دي
د ژمي ستړيشپي په ويښه تېرومه

زما د ګل پهشان وطنه
قربان، قربان دي د شړشم له ګلوشمه

زما جانان ګل د پېروتي
نرۍ پې ګوتي ميرزايي راته کوينه

راشه چي تولېنبني درکړم
چي د يارۍتمه دې سمه لندهشينه

ژوندون د خپل اختيار جنت وي
ما نه ګيلي مهکړه، د بل اختيار کي يمه

رب به مي زړه له تا نه تورکړي
په دوعاګانو به مي غواړې، نه به يمه

ډلی پر هغو خلکو وشه
چي د مينو منځ کي راوړي نفاقونه

يار په سفرځي، خوله به ورکړم
روژه دي ماته شي، شپېته به ونيسمه

يا مي نصيب درسره وشه
يامی د عمر پانه زيړه شه چي مرمه

يار مي ولور له وطن ورک کړ
د ځوانی عمره په رواج دي تېرومه

خاوري به شم، خو دربهنهشم
ستا بی قدري به مي تر مرګه يادهوينه

خلک مي تول تپوس ته راغلل
هغه رانغی چي يې پروت له غمه يمه

خدای دې په خوب کي راحضور کړه
نصيب مي نهشولو په ويښه ديدنونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځير و لولئ

**ته مخامخ راباندې راشه**
**زه مې پلو درته قصدي خطاکومه**

**موږ په نکريزو نه‌پوهېږو**
**څوک چې لاسونه سره‌کوي، يار به لرينه**

**ما چې تر خوږ ګوتې نه نيسي**
**بيا به دې زه هم لټومه پرهرونه**

**هغه چې پيغله شوه، واده شوه**
**زه چې زلمۍ شوم، مسافر له ملکه شو مه**

**څه په نري باران کې راغلې**
**قدم دې ښکل کړم، که دې غېږ کې ونيسمه**

**څه ليوني وختونه تېرشول**
**په نيمه‌شپه به د جانان کلي ته تلمه**

نوربيا

د ليکوال نوري ليکني په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ